هفته نامه
# معارف
اوونیزه
د پوهنې وزارت خبري، ادبي او ټولنیزه خپرونه
سال تاسیس ۱۳۸۱ شماره مسلسل ۲۰۳ ماه عقرب سال ۱۳۹۵

معارف سالم، متوازن و کوشا ضامن رشد و ترقی کشور است

## اشتراک محترم وزیر معارف در کنفرانس وزیران معارف کشورهای عضو سازمان "آیسیسکو"

وزیر معارف کشور برای شرکت در نخستین کنفرانس وزیران معارف کشورهای عضو سازمان اسلامی تعلیمی، علمی و فرهنگی"آیسیسکو" به کشور تونس سفر کردند. این کنفرانس به تاریخ ۲۷ ماه اکتوبر سال روان با اشتراک رییس جمهوری کشور تونس، آقای ایاد مدنی رییس سازمان همکاری های اسلامی، آقای ابوالفضل گراییف وزیر فرهنگ آذربایجان، و آقای دکتور عبدالعزیز التوجیری دبیرکل سازمان آیسیسکو و وزیران معارف کشورهای عضو این سازمان برگزار گردید.

در این کنفرانس روی مسایل گوناگون بحث و تبادل نظر صورت گرفت و هیات اشتراک کننده سخنان شان را در این کنفرانس بیان نمودند. محترم دکتر اسدالله حنیف بلخی وزیر معارف کشور نیز ضمن ایراد بیانیه شان دست آوردها و چالش های فراراه تعلیم و تربیه در افغانستان را بر شمرد و از کار مشترک برای بالا بردن سطح تعلیم و تربیه در میان کشورهای اسلام حمایت و پیشتبانی بی دریغ شان را اعلام نمودند.

در حاشیه این اجلاس وزیر معارف کشور با وزیران تعلیم و تربیه و هیات عالی رتبه این کنفرانس از جمله وزیر معارف پاکستان، وزیر معارف دولت کویت، هیات عالی رتبه جمهوری اسلامی ایران، امارات متحده عربی و دبیر کل سازمان اسلامی تعلیمی، علمی، فرهنگی"آیسیسکو" در رابطه با تعاون و همکاری های مشترک، ازدیاد بورسیه های انستیتوت های تخنیکی و مسلکی بحث و گفتگو نمودند. مقامات مذکور هرکدام



تعلیمی، تربیه کادرهای نصاب تعلیمی و تربیه معلم، چاپ کتاب های اسلامی، تربیه استادان همکاری شان با وزارت معارف افغانستان به وزیر معارف کشور وعده سپردند.

## ساختمان جدید انستیتوت اداره و حساب‌داری به بهره برداری سپرده شد

ساختمان جدید انستیتوت اداره و حساب‌داری توسط پوهندوی



رحیل‌محمد فرملی معین تعلیمات تخنیکی و مسلکی وزارت معارف و برخی از روسا و کارمندان معینیت تعلیمات تخنیکی و مسلکی افتتاح و بهره برداری سپرده شد.

این ساختمان که به هزینه ۳۶ میلیون افغانی از بودجه انکشافی وزارت معارف در مدت سه سال اعمار گردیده دارای ۳۰ صنف درسی، ۱۰ اتاق اداری تشناب های جداگانه برای قشر اناث و ذکور، چاه آب آشامیدنی و سیستم مجهز کانالیزسیون می باشد.

قابل یاد آوریست که با اعمار ساختمان متذکره شرایط بهتر آموزشی برای محصلان آماده گردیده است.

## د پوهنې وزیر په کابل کې د ترکیې له نوي سفیر سره ولیدل

د پوهنې وزیر ښاغلي ډاکټر اسدالله حنیف بلخي په کابل کې د ترکیې له نوي سفیر ښاغلي علي سیت آکین سره ولیدل او په اړونده موضوعاتو یې خبرې اترې وکړې.

ښاغلي بلخي په تېرو کلونو کې د افغانستان له معارف سره د ترکیې هېواد د مرستو له امله مننه وکړه او هغه یې د هېواد تحصیلي بورسونو د ورکولو او د افغانستان نورو ولایتونو ته د افغان ترک ښوونځیو د پراختیا په برخه کې له پوهنې وزارت سره مرسته او همکاري وکړي.

د ترکیې سفیر ښاغلي اکین په دې لیدنه کې د افغانستان له دولت په ځانګړي ډول د پوهنې نظام د پیاوړتیا او پراختیا په برخه



کې د خپل هېواد د مرستو پر دوام ټینګار وکړ او په دې برخه کې یې د هر ډول مرستې او همکارۍ ژمنه وکړه.

د پوهنې نظام په وده او پیاوړتیا کې مهمې وبللې.

د پوهنې ښاغلي وزیر د ترکیې له سفیر وغوښتل، چې افغان محصلینو ته د

## د پوهنې له نظام څخه د خلکو د ملاتړ په اړه ورکشاپ جوړ شو

د هېواد د پوهنې له نظام څخه د خلکو د ملاتړ او حمایت راجلبولو په موخه د پوهنې وزارت د مرکزي او ولایتي ریاستونو ۱۲۰ تنه کارکوونکو ته پنځه ورځنی روزنیز ورکشاپ جوړ شو.

دا ورکشاپ د پوهنې د وزیر ښاغلي ډاکټر اسدالله حنیف بلخي، د وزارت د معینانو، رییسانو، د مرسته کوونکو موسسو د استازو او یو شمېر نورو چاروواکو په ګډون پرانېستل شو. په دې ورکشاپ کې ګډونوالو ته ښوول کېږي، چې څنګه د پوهنې له نظام څخه د خلکو ملاتړ او مرستې را جلب کړي.

د پوهنې وزیر ښاغلي ډاکټر اسدالله حنیف بلخي د ورکشاپ په پرانېستې وینا کې له معارف څخه د خلکو د ملاتړ له امله مننه وکړه، زیاته یې کړه:«څنګه چې لیدل کېږي، د خلکو له ملاتړ پرته هېڅ چیرې دولتونه، په ځانګړي ډول په افغانستان کې نشي کولای په یوازې سر ښوونیز خدمتونه ورسوي، نو موږ له همدې امله د هېواد د پوهنې نظام د ودې او پیاوړتیا په موخه د خپلو هېوادوالو مالي او معنوي مرستو ته اړتیا لرو.»

ښاغلي بلخي وویل، چې پوهنې وزارت له تېرو دوو کلونو راهیسې د ټولنیز خوځښت او شوراګانو ریاست د جوړېدو له لارې د افغانستان د شریفو خلکو ۱،۲ بیلیون افغانیو په ارزښت مرستې راټولې کړي، چې د ځمکو ورکړه، د ښوونځیو او درسي ټولګیو جوړېدل او ترمیم او د ښوونځیو او لابراتوارونو تجهیز او سمبالتیا پکې شامله ده. نوموړي د خلکو له یادو مرستو مننه وکړه او هیله یې وښوده، چې د خپلو اولادونو د ښې راتلونکې په موخه د پوهنې له نظام سره خپلو مرستو ته دوام ورکړي.

دیادولو وړ ده، چې د ټولنیز خوځښت او شوراګانو ریاست تراوسه د بېلابېلو لاملونو له امله تړلي ۱۴۰ ښوونځي هم د زده کوونکو پرمخ پرانیستي، چې پکې نژدې ۳۴ زره زده کوونکو ته د بیا زده کړو اسانتیاوې برابرې شوې دي. ددې زده کوونکو له ډلې څه باندې ۱۰ زره او پنځه سوه یې نجونې دي.

## معرفی رؤسای سرپرست در وزارت معارف

به هدف جلوگیری از تداخل وظیفوی، کندکاری و اجرای به موقع امور مربوطه بر وفق پیشنهاد وزارت معارف و منظوری مقام عالی ریاست جمهوری اسلامی افغانستان به تعداد ۱۲ تن الی انجام و تطبیق پروگرام CBR به حیث سرپرست شماری از ریاست های مرکزی از طرف جلالتمآب دکتر اسدالله حنیف بلخی وزیر معارف و معینان وزارت معارف به پرسونل این وزارت معرفی شدند.

در ابتدا محترم وزیر معارف افغانستان با تاکید بر اصل شایسته سالاری و سپردن کار به اهل کار اذغان داشتند که:« رهبری وزارت معارف به هدف اجرای امور اداری و تدریسی و کار مراجعین به وجه احسن و جلوگیری از هر گونه فساد اداری و ضیاع وقت، یک تعداد ذوات محترم را با توجه به تجارب و سابقهٔ کاری و کارایی شان در بخش های مربوطه از طرف کمیسیون مؤظف که در ترکیب آن علاوه از معینان



وزارت معارف، نماینده گان ادارهٔ محترم ریاست جمهوری و کمیسیون مستقل اصلاحات اداری و خدمات ملکی نیز شرکت داشتند، انتخاب و انضمام پیشنهادیهٔ عنوانی ریاست عالی جمهوری اسلامی افغانستان تقدیم نمود که بعد از منظوری جلالتمآب محمد اشرف غنی رئیس جمهور، جمهوری اسلامی افغانستان به حیث سرپرست الی اعلان برنامه CBR تعین گردیدند.»

همچنان محترم وزیر معارف افغانستان هدایت فرمودند که امروز معینان وزارت معارف هریک روئسای سرپرست جدید را به پرسونل ریاست های مربوطه شان معرفی نمایند.

همچنان محترم وزیر معارف کشور از کار و زحمت آنعده روئسای که در پست های یاد شده قبلا ایفای وظیفه نموده بودند ابراز سپاس کرده و از آنها خواستند تا با استفاده از حق شهروندی خویش در رقابت های برنامه CBR این ریاست ها که اعلان خواهد شد، اشتراک نمایند.

## سرمقاله :

### آگاهی هر چه بیشتر معلمان کشور آروزهای دیرینه یک نظام معارف شگوفان را تحقق می بخشد

آموزش و تدریس کاری است نهایت ظریف ، حساس و دارای ارزش بلند ،هر تحصیل کرده و فارغ پوهنتون که در یک رشته ومسلک معلوماتی خاص کسب کرده باشد نمی تواند معلم و مدرس خوب باشد یا همۀ آنانی که در یک لیسه ، انستیتوت و یا پوهنتون مصروف تدریس و آموزش هستند معلمین و استادان مؤفق بوده نمیتوانند ، بلکه معلمین و استادان مؤفق کسانی هستند که فن ، مهارت و اسلوب معلمی را با تمام معنی و مفهوم آن درک کرده انسان را از آغاز آبستن تخمه جنیتکی الی دوره جوانی و بلوغ با تمام مراحل ،صفات و ویژه گی های روانی آن بشناسد و درتعلیم و تربیت آن مطابق به خصوصیات روانی هر سن و سال عمل نمایند . معلیمن باید از با هوش ترین ولایق ترین افراد و فارغان نهاد های تعلیمی وتربیتی انتخاب گردد .

در حالیکه ما و ارونه عمل مینمایم و آنعده از شاگردانی که کمترین نمرات را در کانکور بد ست می آورند به پوهنځی های تربیه معلم و دارالعلمین هامی فرستیم .

معلمان و استادان نهایت گرامی ! امروز که شرایط نهایت بهتر و خوبتر برای تحصیل و آموزش برای همه فراهم گردیده و دروازه های معارف بروی همه باز است معلمان و استادان ما باید با استفاده ازین فرصت سطح دانش رشته یی ، مسلکی و تخصصی خو د را بلند برده و وظیفه مقدس معلمی را به وجه احسن ایفا نمایند .

رهبری وزارت معارف با تمام نیرو و امکانات دست داشته تلاش مینماید تا از طریق تدویر سیمینار ها و ورکشاپ های آموزشی و تاسیس دارالمعلمین ها ، الحاقیه ها شرایط بهتر تعلیمی و تربیتی را جهت بلند بردن سطح آگاهی مسلکی و تخصصی معلمان فراهم نماید و قدم ها استوار را برای بوجود آوردن یک معارف با کیفیت بر دارد .همین اکنون در مرکز و سایر ولایات کشور لیسه های مسلکی و انستیتوت های تخنیکی، مسلکی و کثیرالرشتوی که از امکانات وسیع آموزشی بر خورد ار است ایجاد گردیده ، در سایر لیسه ها لابراتور برای تجارب کیمیاوی ، فزیکی و بیولوژیکی موجود است همچنان در اکثریت لیسه ها کتابخانه های ایجاد گردیده که معلمان و شاگردان عزیز میتوانند در وقت فارغ از آن استفاده نمایند .« خداوند متعال حال هیچ ملتی را تغییر نمی دهد تا خود شان اقدام ننمایند» پس هر فرد باید برای بهتر ساختن زندگی فردی و اجتماعی از خود آغاز نمایند . معلمان عزیز نیز باید خود تلاش کنند در رشته و مضمونی که تدریس مینمایند ، معلومات خویش را نو و جدید ساخته و به آن بیافزاید

امکاناتی که امروز در اختیار معلمان و شاگردان عزیز قرار دارد با سابقه قابل مقایسه نیست به صدها مجله و نشریه ، اخبار ، چینل ها ی تلویزیونی و رادیویی که همه آنها روزانه به صد ها و هزار ها مطالب و مضامین علمی ، پژوهشی و آموزنده را به نشر می سپارند در کشور فعالیت دارد ، علاوه بر آن تلویزیون معارف افغانستان ، مجله عرفان و نشریه معارف وقتاً فوقتاً مطالب و مضامین آموزنده علمی ، مسلکی و تربیتی را به دست نشر می سپارند که استادان و معلمان ما باید از آن استفاده نموده و سطح آگاهی و معلومات رشته یی علمی و تخصصی خود را بلند ببرد . در سدۀ که ما در آن زندگی داریم سدۀ انقلاب معلومات و اطلاعات نام نهاده اند . امروز با فشار دادن چند دکمه کمپیوتر میتوانید به اطلاعات دست پیدا کنید که چند سال قبل انسانها ازپیش بینی آن عاجز بودند ، معلمان و استادان باید ازین فرصت و امکانات استفاده نمایند تا بتوانند آرزو های یک معارف با کیفیت و شگوفان و در نتیجه یک کشور مترقی ، انکشاف یافته و خود کیفا بر آورده گردد .

# صابر احمدزی؛ ارمانجن شهید

محمد کبیر حقمل

په پوهنې وزارت کې یې زما تر راتلو وړاندې دنده پیل کړې وه. دی د وزارت د نشراتو ریاست په مطبوعاتي برخه کې د رسنیو د اړیکو د برخې کار کوونکی و، خو پر خپل ځای خوښ نه بریښېده. کله، چې زه د نشراتو د رئیس په توګه وټاکل شوم له یوه بل ځوان سره، چې هغه هم په ورته موقف کې و راته راغی، تر ټولو لومړی یې راته د ریاست مبارکي او یو جای نماز راکړ، راته کړل یې، چې دا ښه دی، هره ورځ به لمونځ پې کوې او مور ته به دعا هم کوې. هغه جای نماز اوس هم شته، خو محمد صابر احمدزی نشته.

احمدزی د موسهي و، ژوند یې کلي کې کړی و، خو له ټولو سختیو سره سره یې ځان تر ماسټري ورساوه. د کابل پوهنتون د پښتو ادبیاتو په ځانګه کې یې خپلې لوړې زده کړې بشپړې کړې او په ډېره لېوالتیا یې همالته ماسټري هم ختمه کړه. زما کله هم نه هېرېږي، ده به چې کله هم لاسته راوړنه درلوده، تر ټولو وړاندې به یې زه پې خبرولم، ویل به یې رئیس صېب دادی دا کار مې وکړ او هغه کار مې وکړ. د ماسټرۍ د پای زېرې، د واده زېرې او بیایې د یوازني زوی زېرې تر ټولو ېېرني او له خوشالیو ډک و. صابر احمدزی څه باندې څلور کاله زما همکار پاتې شو، خو کړې ژمنه مې ورسره پوره کړه. په همغو لومړیو وختونو کې مې له پخواني حالته یوه ښه قرار داد ته ورساوه او بیایې څه موده زما د دفتر چارې سنبال کړې. له دې امله، چې انرژي یې درلوده او په کار پوهېده د چارو د تنظیم لپاره مې د کتابونو د ګودام مرستیال وټاکه او تر پایه هلته پاتې شو.

تر ټولو وروستي لیدل یې بیاهم د پوهنتون په اړه و، ویل یې اوس مې دادی ماسټري هم واخیسته، پوهنځي کې بست هم اعلان شوی،



که مرسته وکړې چې استاد شم. ما هلته هم د منډې ټېر ورته وواهه.

صابر احمدزی که څه هم ماسټر شو، پلار شو او بیا یې دنده درلوده، ماته زما د یوه کوچني ورور په شان پاتې شو. په هر اختر، د کریکټ په هره بریا او د خوښۍ هر پروګرام کې به لومړی دده زنګ ماته راته. ډېر وخت مې یې غږ نه و اورېدلی، چې د جمعې په شپه مې یې د شهادت خبر واورېد. یوه دوست راته پر فیسبوک ولیکل، چې احمدزی چا د ورور په واده کې په نښه کړی. ما نه منله، ملګري ته مې زنګ وکړ هغه هم خبرې نشوای کولای، خسر ته مې یې ټیلفون وکړ او هغه راته کړل، چې ملګری دې ولاړو.

نیمه شپه روغتون ته په رسېدو د هغه چا پر جنازه ودرېدم، چې ښکلې ځواني، نري بریت او خندانه څېره یې درلوده، هغه احمدزی، چې تل به یې د معرفي پر مهاَل ځانته خاوري احمدزی وایه تورو خاورو ته ور روان و. په زړه کې مې سل زر خبرې راغلې، مخ مې یې وکوت، لکه په ژوند کې به مې، چې ورته د ناځوانه کلمه کاروله نا خبره ورته کړل، چې ولې ناځوانه داسې دې ولې وکړل؟

صابر هېڅ پروګرام له ما پټ نه دی تېر کړی، د همدې ورور کوژدې ته یې هم خبر کړی وم، موسهي ته به یې د تلو په اړه ما تل د احتیاط خبره ورته کوله، خو دی څه پوهېده، چې د یوه ښوونکي پر کور لوی شوی تحصیل کړی ځوان او د معارف کار کوونکی هم وژل کېدلای شي. تېرې څو ورځې د احمدزي په ویر کې تېرې شوې، چیغې مو وکړې، فریادونه مو وکړل، په وزارت کې مو یې فاتحه واخیسته، تصویرونه مو چاپ کړل، دعاوې مو ورته وکړې، خو هېر مو نه شو. احمدزی د هېرېدو نه و، د هغه د ژوند هره سلګۍ ارمان و، په هره برخه کې یې ارمانونه لرل تل یې هڅه کوله، چې ځان چېرته ورسوي، د خپل ولس او هیوادوالو خدمت وکړي، ښه کورنی ولري، ښه ماشومان ستر کړي او په پای کې خپل مور او پلار ته ښه زوی ثابت شي، خو د یو چا څو نورو نا اهله زامنو یې دا ټول ارمانونه له خاورو سره خاورې کړل.

صابر یې د پنجشنبې پر ورځ (د لړم ۷مه) هغه مهال، چې زوم ورور او ناوې ورېنداره او خپله مېرمن او زوی یې ورسره و په لار کې له موټره را کوز او شهید کړ. هلته د څو دقیقو لپاره د انسانیت روح قبض شو، ترحم له منځه ولاړ او یوه کوچنۍ کربلا جوړه شوه، د احمدزي مېرمنې، ورېندارې، مور او خویندو چیغې وکړې، پر مخ یې خاورې باد کړلې، قاتلانو یې پروا ونکړله، پر سړک ودرېدلې، یو مسلمان پیدا نه شو، چې شهیدان او ټپیان یې پورته کړي، ویښتان یې وشکول او د الله دربار ته یې لاسونه پورته کړل، صابر او همایون شهیدان شول، بل ورور یې ټپي کابل ته راوستل شو، د دوو ځوانانو جنازې بیرته پر هغې لار تېرې شوې، چې څو ساعته مخکې په کې څو وحشیانو خپل حیوانیت ثابت کړی و، انسانان په صفونو کې ودرېدل او د احمدزي جنازه یې وکړه، خو ده خپلو پاتې ارمانونو ته تر شاشا کتل او په له کرکې ډکې موسکا یې د نني نړۍ د خلکو له خولې د انسانیت هغه دروغجن نوم باندې لاړې تف کولې، چې له برکته یې دی شهید شو او کورنۍ یې د ویر پر ټغر کینول شوه.

**روح یې ښاد او یاد یې مدام.**

## په سمنګانو کې د پنځو ښوونځیو نوې ودانۍ پرانیستل شوې

د سمنګان ولایت د دره صوف بالا ولسوالۍ پنځو ښوونځیو نوې ودانۍ د یو لړ مراسمو په ترځ کې ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې. په دې ښوونځیو کې د شیغنه کلي د نجونو لیسه، د دهانه تور د هلکانو لیسه، د ولسوالۍ د مرکز لیسه، د رشک کلي د نجونو لیسه او د چهار دهي د نجونو لیسه شامله ده، یادو ښوونځیو ته یو پوړیزې ودانۍ جوړې شوي، چې هره یوه یې ۸ درسي ټولګي، ۴ اداري خونې او نورې اسانتیاوې لري.

پر یادو ودانیو ۴۵،۸ میلیونه افغانۍ لګښت راغلی، چې د کلیو او پراختیا وزارت د ملي پیوستون د پروګرام لخوا ورکړل شویدي.

ددې ودانیو په جوړېدو سره نږدې څلور زره نجونو او هلکانو ته د خوندي زده کړو چاپېریاَل برابر شوی دی.

په دې اړه جوړو شویو مراسمو کې د سمنګان ولایت د پوهنې ریاست او دولتي ادارو یو شمیر مسوولینو، قومي مشرانو، ښوونکو او زده کوونکو ګډون درلود.

## ختم برنامه ترویج فرهنگ مطالعه وکتابخانه

برنامه ترویج فرهنگ مطالعه و کتابخانه که به کمک مالی بنیاد آسیا توسط موسسه انکشاف تعلیمی و




اجتماعی صلح برای معلمین، سرمعلمین وکتابداران ۷۱ مکتب دوره ابتدایی مرکز ولسوالی های ولایت کابل آغاز گردیده بود به پایان رسید. در مراسم اختتامیه که در هوتل سپین زر برگزار گردیده بود محترم جان آغا واحدی رییس ایشا فوندیشن در رابطه به اهمیت کتاب وکتابخانه معلومات داده گفتند: مطالعه کلید گنج است ما منحیث مسولان درجه یک وظیفه داریم تا جوانان را به عمل ستودنی مطالعه تشویق نموده و از ضیاع وقت گرانبهای جوانان کشور جلوگیری نمایم. جوانان و نوجوانان سرمایه ملی ما است و ما در همکاری با وزارت محترم وزارت معارف تلاش داریم تا فرهنگ مطالعه را در بین جوانان به خصوص شاگردان مکاتب نهادینه سازیم. آقای واحدی از اشتراک کنندگان برنامه خواست آنچه که درین سیمینار آموخته اند در مکاتب مربوطه شان درجهت آشنایی شاگردان با فرهنگ کتابخوانی به کار برند: برنامه با توزیع سرتیفیکت ها برای شاملان سیمینار به پایان رسید. گفتنی است این برنامه برای شاگردان مکاتب ولایات نیز عنقریب آغاز خواهد گردید.

## د قطر هیواد د پکتیکا ولایت له ښوونځیو سره مرسته وکړه

د پکتیکا ولایت د پوهنې سرپرست رییس ښاغلي محمدنسیم واجد د سرې میاشتې له رییس ښاغلي احمد الثمانی او د یادې موسسې له استازي ښاغلي عبدالجبار بهیر سره په خپل کاری دفترکې وکتل.

په دغه کتنه کې دواړو لورو د افغانستان او قطر هیوادونو په تاریخي نیکو او ښو اړیکو د خبرو اترو ترځنګ د قطر هیواد د سرې میاشتې ټولنې د پکتیکا ولایت د ۴ بابه ښوونځیو سره د ۷ میلیونو افغانیو په ارزښت د خپلو مرستو اعلان وکړ.

ښاغلي واجد د نوموړې خیریه ټولنې د مرستو د قدرداني ترځنګ له یادې موسسې څخه د پوهنې د پرمختګ لپاره د نورو زیاتو مرستو غوښتنه وکړه.



## باد وایی

د بزګر غنم به بیل کړم له وښونه
د کوځو خاورې به پورته کړم هوا ته
زما ساز کې ځانګې پاڼې ونې ناځي
دا نغمه به غږومه بېنوا ته
بې پروایم حقیقت نه نه تېرېږم
د ماڼېو ماجرا وړمه بېدیا ته
ما لیدلي ډېر عیشونه ښې چړچې دي
دخانانو افسانې وایم ګدا ته
د خوارانو پیغامونه راسره دي
رسوم یې د بډای عشرت سرا ته
یم استازی د یتیم کوندې له خوانه
د ژړا احوال به ووایم خندا ته
د مخونو حجابونو، نقابونو
زه به یوسمه دا ټول بلې دنیا ته
دخوبانو په کاکل به کوم لوبې
زه به لوخ کړمه مخونه تماشاته
دا چې ډېر لرم تلوار او زرتیرېږم
د فنا د شعر پیغام وړمه بقا ته

رالیږونکی: شهیر احمد

## فرصت

دوست می‌دارم من این نالیدن دلسوز را
تا به هر نوعی که باشد بگذرانم روز را
شب همه شب انتظار صبح رویی می‌رود
کان صباحت نیست این صبح جهان افروز را
وه که گر من بازبینم چهره مهرافزای او
تا قیامت شکر گویم طالع پیروز را
گر من از سنگ ملامت روی برپیچم زنم
جان سپر کردند مردان ناوک دلدوز را
کامجویان را ز ناکامی چشیدن چاره نیست
بر زمستان صبر باید طالب نوروز را
عاقلان خوشه چین از سر لیلی غافلند
این کرامت نیست جز مجنون خرمن سوز را
عاشقان دین و دنیاباز را خاصیتیست
کان نباشد زاهدان مال و جاه اندوز را
دیگری را در کمند آور که ما خود بنده‌ایم
ریسمان در پای حاجت نیست دست آموز را
سعدیا دی رفت و فردا همچنان موجود نیست
در میان این و آن فرصت شمار امروز را

ارسالی: جمشید

محمد اکرم وفادار

## د شهید صابر احمدزي په یاد

په همکارانو کې ځانګړی و ستا شان شهیده
د ښه تهذیب اخلاق ښتن او قدردان شهیده
ته په همزولو کې د ښه سیرت ایمان خاوند وې
پاك مسلمان وې دا ښکاره وایم روښان شهیده
د علم پوهې د ډګر د آسمان ستوری وې ته
ستا کارنامې دي هر ډګر کې نمایان شهیده
د جاهلانو په ناپاکو لاسو ته شهید شوې
افسوس، افسوس او هزار وار کوم ارمان شهیده
مور ستا په غم کې تویوو وینې د اوښکو په ځای
هر یو همکار دې په ژړا لوند دی ګرېوان شهیده
ته وې مظلوم ته بې ګناه وې خدمتګار د وطن
ستا خاطرې به تل ژوندۍ وي هر زمان شهیده
ته شوې ملګری د زرګونو بې ګناه وژنو
آه او فریاد کوم همیش په هر میدان شهیده
وړي جنازه د شهیدانو د جنت پرښتې
ځای یې معلوم دی په جنت کې والا شان شهیده
که خومره لیکم قلم ژاړي او کاغذ حیران دی
په دُرودونو دې لمانځم په موږه ګران شهیده
بې روحه تن دې لکه ناوې د جنت په دنیا
روح دې وي ښاد ستا ای سپېڅلیه با ایمان شهیده

## سخنان سودمند

۱- وقتی روزی بدی دارید همیشه یاد تان باشد کس دیگری روز بدتری داشته شکر گذار داشته هایتان باشید.

۲- به فرزندان تان چگونگی خوشبخت شدن را بیاموزید، نه چگونگی ثروتمند شدن را، تا زمانی که بزرگ شدند قدر چیز ها را بدانند نه قیمتشان را.

۳- بهترین راه برای در امان ماندن دلشکستگی ها این است که هیچ چیز از هیچ کس توقع نداشته باشید.

۴- شاید همه روز ها خوب نباشند اما چیزها خوب در هر روز وجود دارد.

۵- بخاطر بدی های زند گی سپاسگزار باشید چرا که آنها چشم شما را بروی خوبی های که تا پیش از آن توجهی نمی کردید می گشاید.

۶- مردم دقیقاً به همان صورتی با شما رفتار می کنند که خود تان به آنها اجازه میدهید.

۷- وقتی زند گی مسیرش را به سمت دشوارتر شدن تغییر میدهد شما سمت قوی تر شدن تغییرمسیر دهید.

۸- احترام برای کسانی است که لایقش هستند نه طالبش.

۹- خاطرات هرچه شیرینتر باشد بعد ها از تلخی گلویت را بیشتر می سوزاند.

۱۰- دقایقی را که به عیب جویی دیگران می گذارانیم اگر صرف اندیشیدن به عیب های خود کنیم فایده های زیادی می بریم که کوچکترین آن خود شناسی است.

**ارسالی: عزیز**

## خواص درمانی نارنج



نارنج حاوی ویتامین های A,B1,B2,PP,C و مواد معدنی پوتاشیم، مگنیزیم، کلسیم و آهن میباشد.

نارنج از جمله میوه هایی است که برای تقویه اعصاب، دفع سنگ کلیه و مثانه، گلودرد و فشار خون بسیار مفید است .

نارنج هضم غذا را آسان می سازد، مصرف نارنج برای افرادی که به بیماری های مانند: سوء هاضمه، سرما خوردگی، اسهال خونی، آسم، نا رسایی کبد، دیابت، سردرد، ضعف بینایی، آروغ مکرر، کیسه صفراء، نا راحتی های قلبی و نیروی جنسی مبتلا اثر شفا بخش دارد .

خوردن نارنج با شکر در رفع یبوست موثر است.

برای درمان گلودرد و فشار خون بایستی نصف لیوان آب نارنج را با یک قاشق عسل مخلوط کرده و بعد از غذا میل نمایید.

اثر ضدعفونی کننده و انتی بیوتیک دارد.

ضماد پخته میوه نارنج که پوست و هسته هم داشته باشد، برای خارش، جوش های پوستی و نرم کردن پوست بدن و موی سر مفید است .

**ارسالی: نیلوفر**

## دوکتور محمد یاسین عظیم د پوهنې یوویشتم وزیر

**ګل آغا احمدي وردګ**

ښاغلی دوکتور محمد یاسین عظیم له ۱۳۵۱ څخه تر ۱۳۵۲ کال پورې د افغانستان د پوهنې د وزیر په توګه دنده اجرا کړې ده. دوکتور محمد یاسین د محمد عظیم زوی وو چې په ۱۳۰۶ کال په کابل کې زیږېدلی او خپلې



لومړنۍ او ثانوي زده کړې یې په حبیبه لیسه کې د ۱۳۱۸ او ۱۳۳۳ کلونو تر منځ سر ته رسولې دي. ښاغلي دوکتور محمد یاسین عظیم د ۱۳۲۵ او ۱۳۲۹ کلونو تر منځ د کابل پوهنتون د جیولوجي او کیمیا په برخه کې لیسانس لاسته راوړی دی. نوموړی د ۱۳۳۲ او ۱۳۳۳ کلونو تر منځ د امریکا د متحده ایالاتو د منتنه په دولتي پوهنتون کې لوړې زده کړې او ۱۳۳۷ او ۱۳۴۰ کلونو تر منځ د امریکا د وایمنګ د پوهنتون د جیولوجي او فسیولوجي په څانګه کې د ماستری او دوکتورا سند لاسته راوړی دی.

په ۱۳۵۱ کال کې د پوهنې وزارت لومړی مرستیال او بیا د پوهنې د وزیر په توګه ټاکل شوی دی،

## انار



### انار کلسترول خون را کاهش میدهد

نتایج تحقیقات بر روی افرادی که در هفته حداقل دو بار آب انار نوشیده اند نشان داده که ۳۰ درصد کلسترول بد خون آنها کاهش پیدا کرده است. مصرف انار عامل کاهش التهاب دیواره عروق خونی و کاهش احتمال تصلب شرایین است.

### انار وزن را کاهش میدهد

نتایج یک مطالعه نشان می دهد که انار بهترین سلاح برای مبارزه با چاقی با است. در یک مطالعه که بر روی هزار نفر توسط چند دانشگاه آمریکایی در واشنگتن انجام شد محققان متوجه شدند که مصرف انار حتی در کوتاه مدت می تواند رشد سلول های چربی اطراف معده را متوقف و این چربی ها را به سرعت آب کند. محققان در این مطالعه به افراد مورد مطالعه گفتند که مدت یک ماه روزی یک عدد انار مصرف کنند. نتیجه این مطالعه نشان داد که مصرف انار در سوزاندن چربی بدن کاربرد فوق العاده ای دارد و اسید چرب اطراف شکم را نیز کاهش می دهد.

**ارسالی: محمد مدثر**

Weekly Marif Newspaper

A Wholesome, Balanced And Diligent Education System Guaranties The Development And Prosperity Of A Country



Established 2002, Issue No 203, Month October - November 2016

Ministry of Education Cultural and Social Issue

# د پوهنې وزیر د زابل له والي سره وکتل

د پوهنې وزیر ښاغلي ډاکټر اسدالله حنیف بلخي د زابل له والي ښاغلي بسم الله افغانمل سره ولیدل او د هغه ولایت د پوهنې بهیر اړوند ستونزو او کموالي، د یو شمېر ښوونځیو د ودانیو نشتون او د درسي کتابونو پر وخت نه رسیدلو ته هم د لویو ستونزو په توګه اشاره وکړه.



ننګونو په اړه یې خبرې اترې وکړې.

د زابل والي ناامني د معارف د ودې او پراختیا په ځانګړي ډول د نجونو د زده کړو پر وړاندې لوی خنډ وباله او هیله یې وښوده، چې د امنیتي وضعیت په ښه والي سره به زابل کې د پوهنې بهیر هم وده او پراختیا ومومي.

هغه دغه راز د مسلکي ښوونکو

د پوهنې وزیر ښاغلي ډاکټر اسدالله حنیف بلخي د زابل ولایت د پوهنې نظام پر وړاندې شته ستونزو د حل په موخه د هر ډول مرستې ژمنه وکړه او اړوندو چارواکو ته یې لارښوونه وکړه، چې په دې برخه کې جدي هلې ځلې وکړي.

# امتحان رقابتی رؤسای معارف هشت ولایت

بر بنیاد طرزالعمل کمیسیون مستقل اصلاحات اداری و خدمات ملکی امتحان رقابتی پروگرام CBR ریاست های



معارف ولایات بدخشان، تخار، قندز، سمنگان، نورستان، دایکندی، بامیان و بادغس باحضور محترم دوکتور سیدحمیدالله معین مالی و اداری، محترم دوکتور اسدالله محقق معین نصاب تعلیمی و تربیه معلم و شماری از رؤسای مرکزی وزارت معارف و کمیته مؤظف تعیینات با شفافیت کامل، اخذ گردید.

در ابتدأ محترم معین مالی و اداری وزارت معارف با اشاره به اصل شایسته سالاری و سپردن کار به اهل کار، تأکید کرد که در استخدام و تقرر متقاضیان به حیث رئیس معارف ولایات اهتمام جدی نموده و بی طرفی و تمام معیارهای مورد نظر را رعایت خواهند نمود.

گفتنی است که برای احراز هشت پست (بست ۲) ریاست های معارف هشت ولایت یادشده مجموعاً ۱۶۰۰ تن ثبت نام نموده که بعد از تکمیل و آماده نمودن اسناد مورد ضرورت ۵۵ تن واجد شرایط شامل امتحان رقابتی شده و از جمله به تعداد هشت تن آنها با اخذ نمره معیاری استخدام و مقرر خواهند شد که از حقوق و امتیازات خوبی مالی برخوردار می باشند.

# جلسه کمیسیون معارف و تحصیلات عالی ولسی جرگه در وزارت معارف دایر گردید

اعضای کمیسیون معارف و تحصیلات عالی ولسی جرگه با رهبری وزارت معارف در پیوند به مشکلات و چالشهای موجود در نظام معارف کشور بحث و گفتگو نمودند.

محترم دکتر اسدالله حنیف بلخی وزیر معارف کشور در حالیکه از حضور اعضای این کمیسیون در وزارت معارف اظهار خورسندی نمودند، بیان نمود که به همکاری مردم و متنفذین قومی خوشبختانه میلیونها شاگرد دختر و پسر به مکتب میروند. وی از نماینده گان مردم خواست که به حمایت از وزارت معارف ادامه دهد و مطابق قانون از عملکرد این وزارت نظارت نمایند .

کمال ناصر اصولی رییس کمیسیون معارف و تحصیلات عالی ولسی جرگه در حالیکه حمایت خود و همکارانش را از نظام تعلیمی کشور اظهار نموده افزودند: هدف آمدن نماینده گان مردم به وزارت معارف تبادل نظر در مورد بعضی سوالات و چالش های موجود که فرا راه معارف سوی مسئولان و مقام وزارت در باره معلومات ارائه گردید.



قرار دارد می باشد. وی گفت که خواسته ها ومشوره های نماینده گان ملت بخاطر تطبیق قانون و حمایت هرچه بیشتر از معارف است.

در ادامه این نشست اعضای ولسی جرگه به نوبت نگرانی های خود را که بیشتر آن در باره کیفیت معارف، استخدام، بودجه، معلمین، معاشات، سواد آموزی و بخش های مربوط دیگر بود مطرح نمودند که از وزیر معارف به نماینده گان مردم اطمینان داد که این وزارت در بخش های مختلف دست آوردهای زیادی را نصیب شده و انشاالله پیشرفتهای بیشتری را خواهد داشت .

در اخیر اعضای ولسی جرگه از وزارت معارف اظهار ستایش نمودند که این نشست مهم را برگزار و به سوالات و نگرانی های آنان پاسخ ارائه نمودند.

# پوهنې وزارت د شهید محمد صابر احمدزي فاتحه واخیسته

د پوهنې وزارت د اطلاعاتو او نشراتو ریاست د کارکوونکي شهید محمد صابر احمدزي فاتحه د پوهنې وزارت د رهبرۍ او اطلاعاتو او نشراتو ریاست لخوا د پوهنې وزارت په جومات کې واخیستل شوه.

د فاتحې په دغو مراسمو کې د پوهنې وزیر ډاکټر اسدالله حنیف بلخي، د اسلامي زده کړو مرستیال ډاکټر شفیق صمیم، مالي او اداري مرستیال ډاکټر سیدحمیدالله، د شهید احمدزي پلار او نورو خپلوانو، د وزارت مرکزي رییسانو او د اطلاعاتو او نشراتو ریاست یو ډېر شمېر کارکوونکو برخه لرله.

د اطلاعاتو او نشراتو رییس محمد کبیر حقمل په خپلو لنډو خبرو کې د شهید محمد صابر احمدزي د عالي شخصیت او نیکو اخلاقو یادونه وکړه، زیاته یې کړه، شهید احمدزی یو صادق او مهربان کارمند و او له خپلو همکارانو سره یې نهایت صمیمي او دوستانه چلند درلود.

خدای بښلي احمدزي د ماسترۍ ترکچې لوړې زده کړې وې او له تېرو پنځو کلونو راهیسې یې د پوهنې وزارت د اطلاعاتو او نشراتو ریاست په بېلابېلو برخو کې دنده ترسره کوله.



شهید احمدزی د (لړم ۶) په موسهي ولسوالۍ کې د خپل کشر ورور د واده مراسمو کې د ګډون په موخه کلي ته تللی و او کابل ته د بېرته راستنېدو پر مهال د یادې ولسوالۍ په عبدالروف کلا نومې سیمه کې د ځو تنه وسله والو کسانو تر برید لاندې راغلل، چې نوموړی او زوم ورور یې په دې دردونکې پېښه کې شهیدان او مشر ورور یې ټپي شوی دی.

د پوهنې وزارت رهبرۍ او کارکوونکي شهیدانو ته فردوس جنت او ټپي ته د سملاسي روغتیا هیله کوي.

پوهنې وزارت د شهید احمدزي په نشتون د زړه له تله خواشنی دی او له امنیتي ادارو غواړي چې د نوموړي قاتلانو ته سخته سزا ورکړي.

# د لوګر د پوهنې ریاست له خلکو درې نیم میلیونه افغانۍ مرستې را ټولې کړې

د لوګر ولایت د پوهنې ریاست د روان ښوونیز کال له پیل تر اوسه ددې ولایت له شتمنو او سوداګرو درې نیم میلیونه افغانۍ مرستې را ټولې کړې دي.

له خلکو څخه دغه مرستې د پوهنې بهیر د ښه والي او د ښوونځیو د وړو ستونزو د حلولو په موخه راټولې شوې دي.

نوموړې مرستې د ولایت مقام، ولایتي شورا او پوهنې ریاست له خوا په ګډه د "یوه افغانۍ یو ښوونځی" د پروګرام او دغه راز د عامه پوهاوي له لارې له سوداګرو، شتمنو خلکو، هیوالو او زده کوونکو څخه را ټولې شوې دي.

دغه راټولې شوې پیسې په یو شمیر ښوونځیو کې د اوبو سیستم پرفعالولو، د ښوونځیو په ترمیمولو، زده کوونکو ته د کورسونو په جوړولو، د میزونو او څوکیو په برابرولو او د یو شمیر نورو کوچینو ستونزو په حلولو لګیدلي دي.

باید وویل شي، چې دغو مرستو د ډېرو ښوونځیو ستونزې هوارې کړې ، د ښوونځیو بڼې ته یې تغیر ورکړی او ډېرې ګټورې ثابتې شوې دي.

د لوګر د پوهنې ریاست د خلکو له مرستو مننه کوي او هیله لري، چې د پوهنې بهیر د ښه والي او په ښوونځیو کې د شته ستونزو د حلولو لپاره خپلو مرستو ته دوام ورکړي.

مسوول مدیر: محمد نسیم "عیاذ"

کتنپلاوي: محمد کبیر حقمل- معراج زماني- استاد ګل رحمان رحمان عبدالصبور غفراني - محمد اکرم وفادار

خبریال: - محمد طائب عمري - محمد اشرف رسولي

کمپوز او ډیزاین: بریالی رحمانزی

شمیر: ۵۰۰۰

دیجیتل: (۰۷۲۹۸۱۹۰۳۳)

ایمیل: marif.newspaper.moe@gmail.com

پته: دکابل ښار، محمد جان خان واټ، د پوهنې وزارت د نشراتو او اطلاعاتو ریاست، د پوهنې اوونیزې مدیریت